# پښتو ژبه/Pashto språk

پښتو ژبه د لرغونو آریایي ژبو څخه یوه خپلواکه ژبه ده چې له پخوا څخه په څو نومونو یاده شوې چې یو لړ نومونه یې پښتو، پختو، پوختو، په هندي (پټاني)، په پارسي او نړیوالې کچه د افغاني ژبې په نوم شهرت لري. دغه ژبه له ۱۹۳۶ز کال راهیسې د افغانستان ملي او لرغونې ژبه ګڼل شوې.

پښتو د افغانانو ژبه ده چی له تاریخی پلوه د هندو اروپایی ژبو یوه څانګه شمیرل کیږی. هندو اروپایی ژبنی کورنی د نړی یوه ستره ژبنی کورنی بلل کیږی چی پنځه واړه وچی یی نیولی دی اروپایی برخه یی هماغه ګردی ژبی را اخلی چی د اروپا وچه یی یو مخزه نیولی او بیا یی تر امریکا استرالیا، افریقا او آسیا پوری سررسیدلی او په څو ژبینو ډلو یا څانګو ویشل شویدی لکه سلاوی (روسی، چکی سلواکی، بلغاریایی، پولندی، یوګوسلاوی . . .) او داسی نوری.

هندی برخه یی چی هندو اروپایی یا په یوه نامه (آریایی) هم بلل کیږی، هغه ټولی ژبی را اخلی چی د پارس له ختیځه د هند تر وروستیو پولو او چینی او روسی ترکستانو پوری رسیږی دا برخه پر څلورو غټو څانګو ویشل شوی لکه: ۱- آریایی (پښتو، پارسی، بلوڅی، کوردی، اورمړی، پراچی، پدغه، سنګلیچی، شوغنی، واخی، مونجی، اشکاشمی، روښانی، یزغلامی، تاشی، سیوندی سنمانی مازندرانی، ګیلکی، لوری . . .)، ۲- هندی (بنګالی، سیندی، پنجابی، ګوجراتی، مرهټی . . .)، ۳- نورستانی (کتی، وایګلی، پاروتی، اشکوتی) او ۴- دردی (پشه یی، کشموندی، تیراهی، باتیرو، پلوړا ګوربتی، ساوی . . .).

آریایی څانګه په دوو سترو ډلو ویشل کیږی، پرسیک یا لویدیزه ډله او باختری یا ختیزه ډله.

په لویدیزې ډله کې پارسي (دري او تاجیکي په ګډون) بلوڅي، کوردي، تاشي اورمړي سیوندي، پراچي، سمناني، مازندارني، ګیلګي، لوري . . . راځي او په ختیزه اریائي کې پښتو، منونجي، ښوغني، روښاني، سنګیچي، اشکاشمي، واخي، یزغولامي یدغه . . . راځي.

پښتو هم د نورو خپلوانو ژبو غوندې درې ګونې پیرونه شاته پرې ایښې دي لکه: زوړ پیر، منځنی پیر او اوسنی پیر. خو له بده مرغه نه یې له زاړه پیر کومې چوتې نښې نښانې پاتې دي او نه یې له منځني پیر څخه په زاړه پیر کې چې زیږیدی کال د مخه تر دوو پیړیو پورې رسي او تر دویمې پیړۍ پورې اوږدوالی مومي. د زړې پارسي، میدي، او ستایې او ساکي یا سکیتي په نامه د څلورګونو ژبو یا ژبنې ګروپونو نښې نښانې را پاتې دي چې د اوسنیو علمي فرضیو له مخې له هغو څخه ساکي یا سکیتي د ختني او الاني مور او دایستي، شوغني، مونجي وتیڅي او نورو پامیري ژبو او نورو پامیري ژبو او پښتو زړه بڼه یا نیا بلل شویده. میدي د سوغدي مور او د یغنابي، کور دي، بلوڅي او داسي نورو نیا وه. زړه پارسي د پهلوي یا منځني پارسي او پارتي مور ده او د اوسني پارسي- دري تاجکي نیا. د اوستا لور خوارزمي وه مګر لمس یې جوته نه ده، په دې پورتنیو څلورګونو زړو ژبو کې زړې پارسي په جنوب لویدیز اریائي ګروپ اړه درلوده، میدي په شمالي لویدیز او اوستا او ساکي په شمال ختیز اریائي یا باختري ګروپ.

په منځنې پیړۍ کې چې له دویمې پیړۍ څخه تر اوومې زیږدې پیړۍ اوږدوالی لري د جنوب لویدیز خوا ته منځني پارسي یا پهلوي ویل کیده، جنوب ختیز خوا ته د پراچي او اورمړي مور شمال لویدیز خوا ته پارتي او شمال ختیز یا باختر خوا ته خوارزمي سوغدي الاني یا ختني او باختري یا کوشاني او دغه راز د پښتو، ونیڅي او پامیري ژبو موره په اوسني پیر کې پارس دري یا تاجیکي په جنوب لویز اړه لري. بلوڅي او ګوردي او داسي نورې په شمال لویدیز اورمړي او پراچي په جنوب ختیز او پښتو له ونیڅي او پامیري ژبو سره په شمال ختیز ګروپ پورې تړل کیږي.

مګر له پیړیو پیړیو راهیسی دغه ژبی زیاتره، خپلو آرو ټاټوبیو څخه نورو سیمو ته رالیږدیدلی دی لکه پښتو له شمالی ختیځ څخه جنوب ختیځ، پارسی یا دری څه ناڅه له جنوب لویدیځ څخه شمال ختیځ او جنوب ختیځ او بلوڅی له شمال لویدیځ څخه جنوب ختیځ ته.

لومړی نښی نښانی:

د پښتو په برخه کی هم دا خبره کوم علمی بنسټ نلری چی ووایو هیڅ کوم جغرافیایی تاریخی او رغاونیز (ساختمان) اوښتون یی نه دی موندلی او له زرګونو کلو راهیسی په همدی بڼه په همدی نامه او په همدی اوسنیو سیمو کی میشته وه . د نوی ژبپوهنی له مخی له ژبینو توکونو (موادو) پرته د یوی ژبی د لرغونوالی او اصالت ادعا بی سروبوله ده.

په عملی ژوند کی تر هر څه دمخه د هغی د اوسنی بڼی او رغاونی څیړنه ارزښت لری او تاریخی هغه یی دویمه درجه ارزښت هغه هم یواځی د ژبپوهانو د تیوریکی تندی د خړوبتیا لپاره ناروېژی پښتو پوهاند اروابناد پروفیسور مورګن ستیرنی د هغی وینا له مخی چی په ۱۳۵۴ کال یی د پښتو د نړیوال مرکز د پرانیستی په نړیوال سیمینار کی وکړه «که موږ دا ووایو چی پرانسی ژبه دوه زره کاله د مخه شته وه بی مانا خبره ده ځکه هغه جهال هغه پرانیس نه بلکی لاتین ژبه وه.» بل یی په دی خبره ټینګار وکړ چی رابرسیره شوی زاړه ژبنی توکونه (مواد) دهغه زاړه منګی کودړو ته ورته دی چی یو لرغونپوهاند یی په رابرسیرونه بریالی شوی وی او تر یو ځای کولو وروسته یی یوځای کنډو او نیمګړی پاتی وی. په داسی حال کی چی نور ډیر ګودړی هم په لاس ورغلی وی خو د علمی تقوا له مخی نه غواړی هغه په وچ زور په هغه کنډو کی ونښلوی او منګی بشپړ کړی، بلکی نورو برسیرونو ته سترګی پرلار پاتی کیږی چی ګوندی یوه ورځ د منګی خپلی آری او ربښتینی ټوټی یا کودړی ومومی او هغه پری بشپړ کړی او کیږی د خپل ژوند تر پایه یی په موندلو بریالی هم نشی او راتلونکو توکونو ته یی پریږدی. نو که د پښتو په برخه کی پر ډیرو تتو نښو نښانو ډډه ولګوو او د هغو له منلو آرونو

**(اصولو) څخه به مو سر له منلو آرونو (د اصلونو) څخه به مو سر غړاوی کړی وی د مورګن ستبرنی د وروستیو څیړنو له مخی د پښتو ژبی مستند تاریخ له زیږدی (میلادی کال د مخه تر دوو پیړیو پوری رسیږی ځکه ځینی پښتوویونه لکه ژوب (وچوبه) په مانا (څښتن) په یو څه بدله بڼه د شمال لویدیز هند خوا ته د یوه ساک شاهزی (شاهزاده) د نامه په توګه او داسی ځینی نور وییونه او نومونه دا لاسوند (دستاویز) په لاس راکوی چی پښتانه له ساکی ټبرونو څخه یو ټبر دی چی له شمال حتیځ (باختر) څخه تر را لیږدیدلو وروسته په ساکیستان یا اوسنی سیستان کی تری را بیل شوی او له دی سره یی ژبه (پښتو) هم له ساکی ژبو څخه را بیله شویده. راوروسته یی البته له یوی خوا په غور او زمینداور او له بلی خوا په کسی (سلیمان) غره کی د پښتو میشتیوالی او د پښتو شتوالی د ډیر زړو پښتنی دودونو او فولکلوریکو او راوروسته د لیکنی ادبی آثارو له مخی پوره پوره جوت دی، چی پټه خزانه یی لوی اخځ (ماخذ) بلل کیږی.**

**له زړو لاسته راغلو موادو پرته بله علمی وسیله چی د ژبپوهانو په لاس کی ده هغه بیا رغاونه (بازسازی) یا ریستوریشن دی چی د یوی ژبی د منځنی یا زړی بڼی یوڅه بیلګی د هغی د خپلوانو ژبو د شتو موادو له مخی د تاریخی غږپوهنی او آرپوهی (اتمولوژی) په رڼا کی څه نا څه په خپل لاسی توګه را رغوی، د ساری په توګه د پښتو منځی بنه د منځنی پارسی، سوغدی، ختنی، او په تیره بیا د باختر (کوشانی) ژبی (لکه د سره کوتل پر ډبرلیک اوسکو باندی) د لاسته راغلو وییونو له مخی په یو لړ وییونوکی رارغول کیدای شی او همدارنګه یی د زړی بڼی یو لړ توکونه د زړی پارسی، ساکی او باختری یا یوڅه د لری خپلوانی ژبی لکه سانسکریت د توکونو له مخی.**

**د پښتو د (۱۹۰) ق . م . یو پخوانی کتاب:**

**پوهاند حبیبی (د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک دولسم مخ) د راجه ترنیګنی په حواله لیکی چی:**

«د میلاد په دویمه پیړی کی د باختر یونانی سلطنت پر دوو برخو وویشل شو چی له هغو څخه ماندر مشهور یونانی سالار د هند ډیری سیمی ونیولی او دی د هند په تاریخ کی د مالنده پاچا وبلل شو او د بودا دین یی هم ومانه.

د ده خدا کره له بودایی مشهور فیلسوف ناګیسنه سره د (مالنده پتهو) په نامه یادیږی او دغه کتاب په اصل په پخوانی پښتو کښل شوی و چی د پښتو نسخه یی نه ده پاتی په بالی ژبه یی ترجمه په سیلون، برما او سیام کی وه او یوه قدیمه پالی نسخه یی چی په څلورمه میلادی پیړی کی کښل شویده، د جاپان په یوه بودایی معبد کی پیدا شویده.»

په دی توګه ددغه کتاب پښتووالی د مورګن ستبرن د پاسنی پریکړی له مخی د منلو وړ کیدی شی. داسی هم نه چی که نوموړی اثر اریښتو متن پیدا شی د اوسنی پښتو په رنګ به وی ځکه لکه دمخه مو چی ورته نه فوته (اشاره) وکړه، پښتو د یوی ژبی په توګه د مهال او چاپیریال له بد لیدنی سره هرو مرو اوښتون موندلی او هغه څه د پاسه دوه زر کلن زوړ متن به له اوسنی پښتو سره دومره واټن پیدا کړی وی چی یواځی به یی د آرپوهی (ریشه شناسی) په مرسته پوهیدل کیدون ولری. په لنډ ډول دی پایلی ته رسیږو چی پښتو یوه لرغونی باختری ژبه ده چی له اوستا، زړی پارسی او سانسکریت سره ګډ اړیکی لری او ساکی نه تر ټولو زیات نژدیوالی، چی راتلونکی اتمولوژیکی څیړنی به یی دغه نژدیوالی لاپسی جوت کړی.

پښتو د یوی ځانساتی ژبی په توګه:

پښتو د خپلو خویندو ژبو لکه مومنجی، شوغنی، روښانی او نورو پامیری ژبو د لویدیز او اریائی ژبو پارسی کور دی، یا بلوڅی په وړاندی د ویی پانګی (لغوی ذخیری) او ګرامری رغاونی له پلوه زیاته ځانساتی (محافظه کاره) بلل شویده او ښایی سبب یی غرنی او ګوښه ژوند او په دی توګه له ښاری او درباری کلتور څخه لریوالی وی. په دی توګه نن سبا په پښتو کی ډیر ژوندی او نیم ژوانده وییونه لیدل کیږی چی د انډوولونو څرک یی په پارسی او داسی نورو لویدیزو خپلوانو ژبو کی نه لګی لکه کور چی په پهلوی کی

**د خور په بڼه و او ډېر کیدون لری چی په ریشخور کی همدا ویی وی (د پوهاند الهام په اټکل) یا غر چی په پهلوی کی یی انډول (گر) او په ګردیز کی خوندی برېښی او داسی نور. مګر دا خبری بیا هم ددی لاسونه کیدای نشی چی ځوک ووایی پښتو تر دری زړه یا لرغونی ده دری یا پارسی هم پرخپل وار له پښتو او نور شمال ختیزو اریائی ژبو (مونجی شوغنی، روښانی، واخی . . .) څخه د وینګ (تلفظ) یا په لنډ ډول له فونولوژیکی پلوه زیاته ځانساتی برېښی لکه د (ګ، د او ب) سرغړوونو په برخه کی چی یواځی پارسی او نورو پرسیکسو ژبو په هماغه پخوانی بڼه خوندی ساتلی او پښتو او نورو باختری ژبو په (غ - ل - و) اړولی دی، لکه غوا لور، واوره، د ګاو، دختر برف په وړاندی. خو بیاهم دا نشو ویلای چی یا پارسی یا بله ورته ژبه تر پښتو یا مونجی زیاته تر پښتو یا مونجی زیاته لرغونی ده د رښتینی او علمی خبره همدا ده چی دغو ټولو ځپلوانو ژبو یو برابر دری ګونی دوری شاته پرېښی او اوسنی بڼی یی سره همزولی دی.**

**پښتو ګړدودونه (لهجی)**

**دا چی ژبه د تاریخی، جغرافیایی، ټولنیزو وټه ییزو (اقتصادی، کلتوری او داسی نورو راز راز لاملو له مخی تل په اوښتنه او بلیدنه کی ده، نو په دی توګه هماغه یوه ژبه راز راز بڼی پیدا کوی چی د ژبپوهنی په نومونه ورته ګړ دودونه یا لهجی ویل کیږی. دا ګړ دودونه د بیلا بیلو لاملونو له مخی بیلابیل ډولونه لری، لکه جغرافیایی یا سیمه ییز ګړدودونو، تاریخی ګړدودونه، ټولنیز ګړدودونه او داسی نور. اوسنی پښتو له جغرافیایی پلوه په درو لویو ګړدوود ویشل کیږی:**

**۱- کندهاری یا لویدیز ګړدود.**

**۲- ننګرهاری یا ختیز ګړدود**

**۳- منځنی ګړدود.**

**د دود له مخې کندهاری ګړدود ته کندهاری پښتو، ننګرهاری ګړدود ته ننګرهاری پښتو او منځنی ګړدود ته منځنی پښتو هم وايو.**

**کوم بريدونه چې دغه دری ګونی پښتو ګړدودونه سره بيلوی هغه ګړنی، صوتی، ګرامری او وييز يا ليکزيکی (لغوی) توپيرونه دی.**

**۱- په کندهار دود يا کندهاری پښتو کی له کندهاری پرته نوری لويديزی او سويل لويديزی سيمی هم راځی چې د بادغيس له بالا مرغات، غورماچ، د غور نياز کلا، او د هرات له کهسان څخه را پيل کيږی او د زابل تر جلدکه رارسی او زياتره په سړبنی او بيا په غرغښی او بيټنی ټبرونو اړه لری لکه بارکزی، الکوزی، ساکزی، نورزی، اڅکزی، کاکړ، ترين، پريڅ، بابړ . . . دغه راز په يوڅه توپير په دغه ډله کی د سويل وزيری، مسيدی او بيټنی او د ختيځ د خټکو پښتو هم راځی.**

**۲- منځنی ګړدودی ډله يا پښتو چې له جلدکه را پيل کيږی او تر درونټې پوری اوږدوالی مومی، د زابل پکتيا، غزنی، وردګو، ميدان، لوګر، کابل، پروان، کاپيسا، لغمان، او يو څه د ننګرهار په متوزيو (غلجيو) او کرلانی ټبرونو پوری اړه لری لکه هوتک، توخی، ناصر، تره کی، سليمان خيل، علی خيل، اندړ، ځاځی، ځدران، منګل، توتاخيل، تنی، مندوزی، اسمعيل خيل، احمدزی، عبدالرحيم زی، . . . سانيزی، وردګ، اميرخيل، خروټی، سهاک، بابکرخيل، اکاخيل، تره خيل، هوتخيل، اورياخيل، ساپی، جبارخيل، نيازی، خويشکی او داسی نور. په استثنايی توګه د کونړ او باجوړ ځينی سيمی او ټبرونه هم په منځنی ډله کی راځی.**

**۳- ختيزه يا ننګرهاری ګړدودی ډله چې له درونټې او د سره له ککړک څخه پيل مومی او مخ پر ختيځ او شمال ختيځ تر اټکه رسی. ددی ډلی په سيمو کی ددوو زياتره سړبنی او کرلاڼی ټبرونو پښنی ميشتی دی لکه خوګيانی، شينواری، ساپی، مومند، يوسفزی، داودزی، خليل دلزاک او نور دلته د کونړو او باجوړ ځينی ټبرونه لکه ماموند، سالارزی، اوتمانخيل، ابراهيم خيل او نور ګاونډی ترکاڼی ټبرونه د ځينو ګړدودی ځانګړتياوو (لکه**

**د ښوينګ) له پلوه په منځنۍ ډلی پوری اړه لری. دغه راز لکه دمخه چی وويل شو د کوهات خټک، بنګين، ښوڅی او داسی نور ګاونډی تبرونه په کندهاری ډلی پسی ځی.**

# Kilder:

**https://ps.wikipedia.org**

**www.esalat.org**